SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونيزه
په اوونی کي دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
پنځم کال دري څلويښتمه گڼه پرله پسي (۳۳۰) يکشنبه د۱۴۲۱ هـ ق کال د ربيع الاول (۲۳) د۱۳۷۹هـ ش کال د چنگاښ دمياشتې(۵) د ۲۰۰۰ميلادي کال د جون (۲۵)

اهالي قحط زده ولايت غور :

از مساعدت مالي ۸۰۰ مليون افغاني سره مياشت مستفيد گرديده اند

والي ولايت غور اعلام کرده است که مردم اين ولايت با مشکلات اقتصادي جدي ناشي از اثرات سؤ خشکسالي مواجه گرديده و احتمال وجود دارد که قحطي دامنگير مردم گردد.

محترم مولوي عبدالرحمن حقاني والي ولايت غور طي صحبتي با محترم عبدالحي خطيبي خبرنگار اژانس اطلاعاتي باختر در ولايت غور وضع امنيتي آنولايت را مطمئن و با ثبات خوانده افزود : مردم ولايت در تطبيق فرامين عاليقدر امير المومنين همکاري همه جانبه داشته و از دستاورد هاي امارت اسلامي در عرصه هاي مختلف با نثار جان و مال دفاع مينمايند.

محترم والي ولايت غور اعلام کرده است که اثرات خشکسالي مردم ولايت غور را نسبت به ساير مناطق کشور زياد متضرر ساخته و بخش زراعت للمي آنولايت را صد در صد خساره مند گردانيده است.

موصوف توجه سازمانهاي خيريه بين المللي را به آسيب ديده گان اين ولايت معطوف داشته گفت عمق اثرات سو خشکسالي به حدي است که خاطرات تلخ و ناگوار سالهاي ۱۳۵۰ و ۱۳۵۱ را در ذهنها تداعي ميکند که در آن سالها مردم نسبت قحطي شديد به مشکلات غير قابل وصف مواجه بودند.

موصوف در ادامه سخنانش گفتند: تا کنون هيچ سازمان خيريه بين المللي مردم ص ٤

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسي !، همدا (عدل) ډير نږدې دی تقوا(پرهيزگاری) ته . (سورة المائدة)

توجه!

ايمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنين کلمات مقدس را بي حرمتي بگذاريد.

د هيواد په مرکز او ولاياتو کی :

د ۳۰ توليدی پروژو جوړول منظور شول

په دغو پروژو کی به ۲۱٦٥ تنه هيواد وال په کار وگومارل شی

صابون، غوړی غير الکولی مشروبات، او درمل به ددغو پروژو اساسی توليدات وی

د نومورو پروژو لومړنی لگښت يو سلو شپږ څلويښت ملیارده او څلور ديرش مليونه افغانی اټکل شوی دی

د هيواد په مرکز او ولاياتو کی ديرش توليدی او خدماتی پروژی نوی جوړيږی.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د خصوصی پانگی اچونی عالی کميټی پرون د سوداگری د وزير محترم مولانا عبدالرزاق په مشری او د پلان د وزير محترم قاری دين محمد حنيف د کانو او صنايعو د وزير محترم ملا محمد عيسی اخند د خصوصی پانگی اچونی او پراختيا د لوی رئيس محترم مولوی شجاع الدين خدام او د ماليي او د کرنی او مالداری د وزارتونو د واکمنو استازو په گډون غونډه وکړه.

په دی غونډه کی د خصوصی فابريکو د کار او فعاليت د څرنگوالی او د خلکو د ارتياوو په لړی کی د ماليي او اقتصادی بنسټ د پياوړتيا په لاره کی د هغو د رول په باره کی هراړخيزی خبری وشوی او د رغنده او گټورو نظريو او پيشنهادونو له وړاندی کيدو وروسته ٤ مخ

طي محفلي :

سنگ تهداب مسجد قريه کرو خيل گذاشته شد

سنگ تهداب مسجد قريه کرو خيل چنار ولسوالي خاکجبار ديروز گذاشته شد

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد : در محفليکه به همين مناسبت در قريه چهار تدوير يافته بود محترم مولوي محمد مسلم حقاني معين وزارت حج و اوقاف سنگ تهداب مسجد را گذاشته در مورد مزاياي اخروي و دنيوي اعمار مساجد و نقش منبر بخاطر دعوت مردم به تطبيق قوانين اسلامي و پرهيز از منکرات و مفسدات صحبت مفصل کرده گفت آنانيکه از مسجد و عالم فاصله ميگيرد خوار و ذليل ميشوند نقش مسجد و منبر ص ٤

د بهرنيو چارو په وزارت کی :

د بشری مرستو د راجلبولو په منظور غونډه وشوه

د بشری ټولنو د زياتو مرستو د جلبولو او د هيواد په هغو کروندگرو، مالدارانو او خلکو باندی د هغو د ويشلو په خاطر د سنجول شوی ميکانيزم د جوړولو په مقصد چی د روانی وچکالی د تاوړو اغيزو له امله زيانمن شويدی پرون د بهرنيو چارو په وزارت کی يوه غونډه جوړه شوه.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ په دی غونډه کی چی د شهيدانو او مهاجرينو د چارو د وزير محترم مولوی عبدالرقيب، د بهرنيو چارو وزارت د سياسی ٤ مخ

کار ترميم سرک عليشنگ تکميل گرديد

کار ترميم سرک هاي مناطق مربوط ولسوالي عليشنگ ولايت لغمان که قبلاً آغاز گرديده بود اکمال و به بهره برداري سپرده شد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر ميدهد : کار ترميم سرکهاي مناطق دره هاي کرنج و ميل دريه ولسوالي عليشنگ ولايت لغمان که قبلاً ص ٤

په نورستان کی سل کورنی د بريښنا له انرژی نه برخمنی شوی

شريعت : په دی وروستيو وختونو کی د نورستان د ننگراج د سيمی د ودهو په کلی کی زمونږ د دوو تنو بادرده او با احساسه هيوادوالو په مالی مرسته د بريښنا يوه فابريکه جوړه شوه چی په هر ساعت کی د ۳۰۰ کيلو واټه بريښناد توليد ظرفيت لری. ددغی فابريکی په جوړيدو سره د نوموړی سيمی څه د پاسه ۱۰۰ کورنۍ د بريښنا له انرژی نه برخمنی شوی دی.

د مخدراتو د ترېوالی ورځی په مناسبت يوه غونډه او مشاعره جوړه شوه

د جون د مياشتی د ۱٦ نيټی د مخدره موادو پر ضد د مبارزی د ترېوالی ورځی له امله پرون يو ستر کانکور او مشاعره جوړه شوه.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ دغه کانکور او مشاعره چی په ټولنه کی د مخدره موادو د زيانونو او ناوړو اغيزو څرگندوی ده پرون له غرمی مخکی د ٤ مخ

ما به جهانيان راه تفاهم و مذاکره را پيشنهاد مينماييم - ايشان نيز بايد در برابر واقعيت هاي عيني موقف سازنده اتخاذ نمايند

فيض احمد «فيض» نطاق وزارت امور خارجه

بمنظور توضيح موقف فعال اصولي و سازنده امارت اسلامي افغانستان در قبال حل مسايل داخلي توسعه و ايجاد مناسبات بين المللي عليه تروريزم ، مواد مخدر و ايجاد زمينه هاي همکاري متقابل ميان ژورناليستان داخلي و خارجي ديروز ص ٤

دری تنه بشری حقوق څارونکی په تيښته له چيچنيا ووتل

د اروپا د شورا د بشر د حقوقو دری تنه کارپوهان د روسانو تر اشغال لاندی چيچن جمهوريت کی د امنيت د نشتوالی له امله له دريو ورځو وروسته له دغی سيمی نه وتلی دی.

دوی په روسی پوځيانو باندی تور لگولی دی چی د دوی د امنيت په ساتنه او تامينولو کی بی هيڅ راز پاملرنه نده کړی او په دی ندی بريالی شوی چی د روسانو تر اشغال لاندی ٤ مخ

مردم ولايت جوزجان:

تسليح مخالفين از طرف روسها يگانه عامل بی ثباتی در کشور ميباشد

مردم ولسوالي هاي کوهستانات و گوشته ولايت جوزجان اعمال مخالفين امارت اسلامي و مداخلات روسها در افغانستان را تقبيح نمودند.

آژانس اطلاعاتي باختر از شهر شبرغان خبر ميدهد : در گردهمايي وسيع مردم ولسوالي هاي متذکره محترم حافظ کريمداد معاون ولايت جوزجان، محترم ملا عبدالحکيم اخند ولسوال گوشته ولايت جوزجان و محترم ملا ضيا اخند يکتن از مسؤولين نظامي در ولسوالي درزا بالنوبه پاليسي و ص ٤

په استراليا کی لگيدلی توفان زيات تاوانونه ورسول

د استراليا هيواد د ويکتوريا په ايالت کی يوه سخت باد او توفان زيات تاوانونه اړولی دی.

د استراليا مطبوعاتو پرون خبر ورکړ هغه سخت توفان چی ورمه شپه د ويکتوريا ايالت په مرکز کی په يوه ساعت کی د يو سلو پنځوس کيلو مترو په گړندیتوب وچليد په خپل تگ لوری کی يی په بيلا بيلو ښارونو کی د استوگنی زيات کورونه ويجاړ کړل چی د هغه له امله څو تنه ټپيان شول. دغه توفان د کرنی حاصلاتو ته هم زيان اړولی دی ډيری ونی يی له بيخه ايستلی دی څاروی يی ٤ مخ

مردم زيمبابوي به پاي صندوقهاي رايدهي رفتند

مردم زيمبابوي به پاي صندوقهاي رايدهي رفتند تا نماينده گان مورد پسند شانرا به پارلمان کشور برگزينند.

درين انتخابات حزب حاکم موسوم به زانو به رهبري رابرت موگابي رئيس جمهور آنکشور با رقابت سر سخت جنبش دموکراتيك براي تغيير پس از سال ۱۹۸۰ مواجه ميباشد.

در هفته هاي قبل از اين انتخابات بيش از سي نفر که عمدتاً طرف داران حزب جنبش دموکراتيك براي تغيير بودند به قتل رسيده اند همچنان درين مدت به صد ها مزرعه مربوط به سفيد پوستان توسط طرفداران رابرت موگابي اشغال گرديد.

خبرنگاران ميگويند جنبش دموکراتيك براي تغيير چانس زيادي راي کسب اکثريت ارا، پارلمان دارد.

پارلمان کشور زيمبابوي داراي يکصدو پنجاه عضو ميباشد از هر حوزه انتخاباتي چهار ناظر بين المللي وارسي مينمايد. انتخابات فردا نيز ادامه خواهد يافت.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

مسوليت بزرگ شوراي علماي کشور

درين حقيقت جاي ترديد نيست که علماي دين هميشه و بخصوص در مقاطع حساس از تاريخ کشور نقش بسيار مهم رهبري ملت را چه در برابر تجاوز خارجي و چه در حالاتي که مشکلاتي در داخل بروز نموده است بعهده داشته اند و ملت مسلمان افغان هر زمان که به مشکلي چه داخلي و چه خارجي مواجه شده اند مرجع کسب دستور آنان علماي جيد دين بوده است.

زمانيکه حکومت به اصطلاح مجاهدين از تامين نظم و امنيت در کشور عاجز آمد و به مشوره هاي مکرر علماي دين براي تامين صلح و امنيت در کشور نيز وقعي ننهاد مردم به گرد علماي دين جمع شدند و از آنان طالب به پايان آوردن آن وضع ناگوار گرديدند و به اين ترتيب تحريك علما و طلبه هاي مدارس ديني بميان ص ۲

سوريه له اسرائيلو سره د سولی د خبرو پيل کيدو ته تياری لری

د سوريی هيواد تياری څرگند کړ چی حاضره ده له اسرائيلو سره د سولی خبری له سره پيل کړی.

په دی شرط چی د تل ابيب چارواکی د جولان لوړی څوکی ته په بشپړه توگه پريږدی.

د سوريی د بهرنيو چارو وزير فاروق الشرع ورمه ورځ د دمشق کی وويل بشار الاسد چی گومان کيږی د سوريی راتلونکی مشر وی دغه ټکی د ملگرو ملتو د ٤ مخ

د چين يوه الوتکه په هوا کی له تالندی او بريښنا سره د ټکر له امله راوغورځيده

د چين داوهان د ښار د هوايی کرښی د يوی الوتکی د راغورځيدلو په پيښه کی د وژل شويو کسانو شمير اوس څلور څلويښت تنو ته رسيدلی دی.

د نړيوالو خبری منابعو د خبر له مخی ددغی الوتکی د راولويدلو له امله دغه راز اووه تنه نور د الوتکی د راولويدلو په ځای کی له منځه تللی دی. ٤ مخ

شریعت

دتاسیس کال	: ۱۳۷۴ هـ ش
	: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر	: عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال	: غلام محمد فاروق
دبوي گڼي بيه	: په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس	: (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱- توزیع او شکایات :٦٢٨٥٩
جاري حساب	: ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ	: امارتي مطبعه

بقیه سرمقاله

امد که در اندك زماني موفق شد تا بر بخش اعظم از کشور حاکمیت شرع را بر قرار ساخته و نظم و امنیت را حاکم سازد با بمیان آمدن امارت اسلامي افغانستان تحریك مبدل به امارت گردید و افراد شناخته شده تحریك در راس امور امارت اسلامي به کار گماشته شدند.

اما باید به این نکته نیز اشاره نمود که یك عده عناصر ابن الرقت و استفاده جو که در هر جامعه ئي وجود دارند از فرصت استفاده نموده و در بعضي از ارگانها نفوذ نمودند این چهره هاي خطرناك تنها قصد استفاده مادي را از شرایط نداشتند بلکه در عین زمان مي خواستند تا در چهره طالب و عالم علماء و طلباي کرام را که در راه بر قراري نظام شریعت اینهمه قربانيرا داده بودند بد نام سازند. این چهره ها وقتاً فوقتاً شناسایي گردیده و مورد مجازات قرار گرفتند و حتي در شرایطیکه جرم آنان ایجاب حد و قصاص را مي نمود حکم شرع در مورد آنان تطبیق گردید.

در رابطه با مشکلات و شکایات مردم از مسؤولین امارتي و رسیدگي به آن کمیسیون ها و مراجعي بوجود آمد که مراتب رفائیت مردم را فراهم آوردند ولي تراکم کار ها در دوایر امارتي این امکان را کمتر مساعد مي سازد که هر شاکي و عارض بتواند غرض خود را شخصاً به مقامات ذیصلاح برساند بخصوص در کابل چنین مشکلات بیشتر محسوس است.

هر چند وزرائي چون محترم ترابي وزیر عدلیه مدتي از وقت خود را به سمع شکایات مستقیم از مردم وقف کردند و در اوقات معین در دفتر آنان بروي مراجعین باز است که کاري است بسیار در خور ستایش ولي باید اعتراف نمود که گاهي مشکل تنها با صدور حکم کتبي در پاي عریضه بي حل نمي شود و باید مستقیماً به مقام مسؤلي که از وي شکایت وجود دارد تماس گرفته شود تا مشخص گردد که واقعاً مشکلي وجود دارد و اگر مشکلي از جانب مرجعي موجود باشد باید در جهت حل مشکل به وي توصیه و گوشزد صورت گیرد.

اکنون بنا به فرمان جناب عالیقدر امیر المومنین این وظیفه خطیر بدوش شوراي علماي شهر کابل نهاده شده است که اقدامي کاملاً بجا و به مورد است .

همانگونه که هر عمل نیك و هر قدم مثبت که از جانب مسوولین امور بر داشته میشود انعکاس مثبت نه تنها در داخل بلکه در سراسر جهان دارد خدا نا خواسته هر عمل خلاف هر چند از طرف یك مقام پائین رتبه امارت نیز صورت گیرد با تبلیغات بسیار در سطح جهان پخش میشود و همانگونه که کار نیك در امارت اسلامي موجب سر فرازي دارین علماي دین و طلباي کرام است، بدنامي هر عمل زشت نیز به آنها متوجه مي گردد و در شرایطیکه دنیاي کفر در صدد است تا کوچکترین لغزش از جانب یك مقام امارت اسلامي را با هیاهو و تبلیغات نا کامي تطبیق نظام اسلامي در جهان قلمداد نمایند و ذهنیت ها را علیه امارت اسلامي تحریك نمایند باید چنین مرجع با صلاحیت که متشکل از علماي جید دین است موجود باشد تا از هر اقدامي که در نهایت هدف آن ضربه زدن به مقام معنوي طالب و عالم دین است جلوگیري نماید.

اینکه اکنون هر کس میتواند در شهر کابل شکایت خود از هر مرجع امارتي را خود مستقیماً به شوراي علما برده و شوراي علما نیز هر مقام امارتي را مورد بازپرس قرار دهد احیاي سنت حسنه بي است که قرنها در جهان اسلام متروك بوده است.

ما اطمینان داریم که شوراي محترم علما در پرتو هدایات شریعت غراي محمدي «ص» وظیفه خطیري را که به ایشان سپرده شده با قاطعیت و امانت داري انجام خواهند داد و امیدواریم که هیچ مقام امارتي زمینه یي را بوجود نیاورد که کسي از وي به شوراي علما عارض شود و البته قاطعیت شوراي علماي کرام در ایفاي وظایف محوله میتواند فضاي جدیدي را در سطح تمام ارگانهاي امارتي حاکم سازد که در شرایط فعلي سخت به آن نیازمندیم.

والله ولي التوفیق

نگاهی به مبارزه انتخاباتی در سازمان ملل

مجیب الرحمن

هنوز یك سال به انتخابات تعین رئیس و منشي سازمان ملل باقي مانده اما کوفي عنان از حالا خود را براي کسب رهبري برج شیشه اي در نیویارك آماده مي سازد.

یکي از روز نامه نگاران بر تانوي مي خواهد کتابي در مورد خاطرات و فعالیت هاي عنان تهیه نماید، درست در همین وقت یکي از قلم سازان مي خواهد فلمي را در مورد فعالیت هاي منشي سازمان ملل متحد ترتیب دهد . آقاي عنان نیز سفر هاي خود را به پایتخت کشور هایي که مي توانند نقش مهمي را در کمك به پیروزي وي در انتخابات دور دوم و جدید داشته باشند آغاز کرده است .

دوستان و پیروان وي علت کاندید مجدد و پیروزي او راد ر دو چیز مي دانند : ۱- او اولین کسي است از افریقا که این مقام و پست حساس به وي محول شده است چرا که آسیایي ها، امریکایي ها، و انگلیسي ها دو مرتبه این مقام را از آن خود ساخته اند. آنان مي گویند منشي قبلي سازمان ملل پطرس غالي مصري بوده و افریقایي نمي باشد.

پطرس غالي فقط یك دوره را گذرانده، اما به علت نا رضایتي امریکا نتوانست به مقام فوق براي بار دوم نایل آید .

۲- در رسیدن به این مقام رنگ و پوست هیچ نقشي ندارد، لذا باید سیاه پوستان، بار دیگر این مقام را از آن خود سازند.

هواداران عنان مي گویند که پطرس غالي هیچ خدمتي نکرده، اگر با دیده انصاف بنگریم این سخن شان درست نیست چرا که هیچ نماینده و منشي از نمایندگان سازمان ملل مانند غالي فعال نبوده و همچون وي فعالیت نکرده است درگیري وي با واشنگتن مسأله اي است جدا . آري غالي در حل مسأله یوگوسلاویا سابق و رواندا مرتکب اشتباه شده است. اما نمي توان گفت که عنان از وي بیشتر فعالیت کرده است چرا که عنان در مسأله کوسووا ناکام شده علاوه بر این در افریقا نیز این چنین

هنوز که هنوز است جنگ هاي محلي، قحط سالي ها و بحران هاي اقتصادي این قاره را فرا گرفته ممکن است سومالي را همین مشکلات و حالت ها در بر گیرد.

ایالات متحده در مسأله انگولا نیز با شکست مواجه شده است شکست عنان در مسأله سرالیون خود نیز دلالت بر عدم قدرت سیاسي وي در حل مسأله قاره افریقا، دارد .

خلاصه عنان و برنامه هاي امریکا در بسیاري از جا هاي دنیا با هزیمت و شکست مواجه گشته است گروههاي اعزامي سازمان ملل در مورد حل مسأله افغانستان با مصرف هزینه هاي سرسام آور نتوانستند به نتایج سودمند و مثمري نایل آیند.

هیأت ایالات متحده در اسلام اباد، تهران و نیویارك و مسافرت هاي آنها در جا هاي متعدد دنیا خساره ها و ضرر هاي کمرشکن و غیر قابل جبراني را به امریکا وارد ساخته است. علاوه بر اینکه کوفي عنان در بحران قفقاز سکوت کرده و آن را در طاقچه نسیان نهاده است زیرا در دور دوم انتخابات سازمان ملل عنان به روسیه نیازمند است.

اما اشتباه کلاسیکي عنان در مورد عراق،

عنان خوشحال بود که با رئیس جمهور عراق ملاقات کرده، در نهایت اصرار بر امضاً پیمان صلح داشته است پیروان وي با خوشحالي و سرور شروع به پخش پوستر ها و اعلان هاي موفقیت وي نمودند اما غافل از اینکه صدام حسین این عهد نامه را امضا نخواهد کرد درست در یکي از ملاقات هاي عنان با صدام حسین، صدام دست به ساختن سلاح هاي مهلك و کشنده بدون اشراف و نظارت هیچ سازمان مي زند.

اگر منصفانه قضاوت کنیم عنان در مقابله با صدام حسین به موفقیت هاي محدودي نه معدومي رسیده است. لذا دیگر مجالي براي تاکید مجدد این مطلب که غالي از انان بهتر توانست نقش فعالي را بازي کند باقي نخواهد ماند، باید فرمان رهبري سازمان ملل به کسي بجز این دو داده شود.

بنا بر تقلید و اتباع از آن، نماینده باید از قاره اسیا باشد چرا که قبل از سه پیمان یك آسیایي به این مقام رسیده است و نیز باید منشي از بین مسلمانان انتخاب شود چرا که از ٦ منشي قبلي ٥ تن آنها مسیحي و یکي بودایي بوده، لذا این بار اگر رهبري سازمان ملل متحد بدست مسلماني بیفتد چه اشکالي خواهد داشت ؟

مسلمانان ۱ بر ٦ جمعیت دنیا را به خود اختصاصي داده اند لذا یك بار حق مسلم شان است. وقت آن رسیده تا مسلمان به این مقام برسد زیرا اکثر مسایل و بحران هاي جهاني به آنان تعلق دارد . بحران هاي افغانستان ، بوسني، عراق، کوسووا، سومالي ، سودان ، سیرالیون ... و ۷۰٪ پناهندگان دنیا را مسلمانان تشکیل مي دهند.

تا کنون هیچ مسلماني به پست هاي مهم و حساس سازمان ملل مانند سازمان صحي جهان، سازمان بازرگاني و تجارت جهاني یونیسف، یونیسکو ... نرسیده است. تنها دو مسلمان یکي مراکشي بنام حسن ایوب به مقام رئیس سازمان تجارت جهاني و دیگري قصیبي سفیر عربستان سعودي در لندن به ریاست یونیسکو این مقام ها را از ان خود ساخته اند که اولي با تلاش هاي امریکا با وجود کسب مقام در مقابل یك کاندید نیوز لندي از این پست برکنار و دیگري چون اکثر و اغلب کمك ها و تمویل یونیسکو بوسیله آلمان مي شود با وجود موفقیت رد شده است.

اسلامی نړی یو ځل بیا د احیا او خوځښت په لور

محمد الله نورستاني

د تاریخي شواهدو په بنا د ۱۹٦۰ لومړی لسیزه د اسلامی نړی د استضعاف او کمزوری لسیزه بلل کیږي خو له نیکه مرغه له هغه را وروسته لسیزو کی بیا په اسلامی نړی کی د تحرک او پاځون روح پوشوی او په ټولو هغو هیوادونو کی چی یو وخت یی د استعمار زهر څښلی و په تدریجی توگه د استقلال او خپلواکی دمه چلیدلی.

دا چی اوس په بین المللی کچه کمونیزم، سیکولریزم او... شکست خوړلی ځکه نو نړیوال استعماري ځواکونه بی تابه دی هسی نه چی د مستقبل او راتلونکی بین المللی حاکم احیا اسلا، تحریک او مسلمانان ونگرځی نو په همدی ... کله په عراق بندیزونه لگوی او کله ... د افغانستان کروز توغوی دا چی ... د استعماری ځواکونو له لاسه «تنگ ... بجنگ امد» ته رسیدلی ځکه نو مسلمانان مجبوره دی چی څه وکړی.

خدای خبر چی د کاسووا او بوسنیا مسلمانان به له لمانځه او اوداسه څخه خبر وه او که نه ؟ دوی محض قومی مسلمانان وه لیکن د لویدیزوالو له تبعیض او تشدد څخه دوی هم خوندی پاتی نشول،

ځکه نو ! اوس د نړی په هر گوټ کی مسلمانان په جوش راغلی او نور د غلامی ژوند نشی زغملی ځکه اوس مسلمانانو د کاسووا او د منځنی ختیځ، ختیځ تیمور، ایبون څخه نیولی تر ازبکستان او چیچن پوری حریت او استقلالیت ته مخه کړی حتی چی له اندلس (هسپانیې) څخه پرته د قاعده کلیه په توگه په هغی ځمکی باندی چی یو ځل اسلام حاکم شوی وی یو ځل بیا د تحرک په حال کی دی چی په نږدی وخت کی په کریمیا کی د تاتاري مسلمانانو پرجوشه پاځون د دی خبری ښه ښکارندوی دی.

دا چی اسلامی نړی د دنیا د ټولی ابادی ٥ مه برخه او د مذهب له لحاظه دوهم نمبر دین او له هر اړخیزو اقتصادی زیرمو څخه ښه بهره ورده دا او اوس یی هڅه کړی چی په خپل اسلامي یووالي سره د ښکېلاک گرو په وړاندي یو توپاني ځواک جوړ کړي نو استعماري طاقتونو ته به ښه دا وی چی هغوی ته د مزاحمت پر ځای د سفارتی همکاربو او د ښو اړیکو د ټینگولو کوښښ وکړی او دا پدی معنی چی دا د نیا په همکاري او متقابل احترام باندي بنا ده .او که نه نو نتیجه به یی بیا د دوي پر زیان وي دا ځکه ولسونو چی یو ځل بو شی ته مخه وکړه او هر څه یی پر ځان ومنل نو بیا د هغه سیلاب مخه نیول مشکل وی د مثال په توگه اسرائیلو غوندی اتومی او له غوب څخه حمایت یافته طاقت څرنگه د حزب اله د بی سرو سامانه جنگیالیو له خواله سهیلی لبنان څخه تښتی ته مجبور کړی شو خبره پدی نشی حل کیدای چی کله په ختیځ تیمور کی ټولپوښتنی (ریفرنډم) ته لاره هواره کړی او کله د کشمیر او فلسطین قرار دادونه د ک غذونو لاندی کیږدی، کله د مسلمانانو د غولو لو لپاره ناټو د یوگوسلاویا څخه د خپل شخصی انتقام پخاطر په بلگراد بمباری شروع کړی او کله تا کله چیچن غوندی حساسه مسئله کی محض په سفارتی دباو باندی اکتفا کوی.

آخر مسلمان خو هم یو قوم دی، د مستقبل تهذیب او کلتور خاوند دی زرکاله یی د نړی په سطحه لوی لوی مثالی خلافتونه او بین المللی حکومتونه کړی دا دومره مجبور قوم ندی چی گنی اغیار به همیش د دوی سرنوشت ټاکی که د استعماری طاقتونو همدغه «تنگ آمد بجنگ آمد» پالیسی د مسلمانانو په مقابل کی دوام ومومی نو د عالم اسلام مسلمانان به هرو مرو نړیوال اسلامی یووالی او پاځون ته اړ ایستل شی او د ځان دفاع ته به ځان اماده کړی .

نږدی یو دیله اهمه خبره هم شته او هغه دا چی مسلمانانو به په نړیواله سطحه ډیر څه کړی وای لیکن له بده مرغه چی د دوي مشري او قیادت د نا اهلو خلکو په لاس کی ده چی دوي پخپله د غربیانو قوتو ستهیت او د هغوی د گټو محافظین دی، هغوی ته د فلسطین، کشمیر ، چیچنیا او افغان بحران د ناول او افسانو څخه پرته نور څه نه ښکاری.

ځکه نو !

که اسلامی نړی د احیا او خپلواکی سفر شروع کوی نو لومړی ورته د اسلامی نړی په صالح زعامت باندی سوچ او فکر کول پکار دی او چی کله هم د مسلمانانو نړیوال زعامت صحیح شی نو انشاء الله بیا نړیواله لاره هواره ده څرنگه چی بین المللی طاغوتیان پخپله اقرار کوی چی مسلمانانو کی فقط د صلاح الدین ایوبی دقیادت کمی دی او بس د افغانستان اسلامی امارت د داخلی مخالفتونو او مزاحمتونو او د شرق او غرب د نړیوالو مخالفتونو او د ملگرو ملتونو د ظالمانه بندیزونو با وجود یی څومره ټینگ امنیت او نمونوی حکومتی نظام په ۲۲ کاله جنگ ځپلی او لوټ شوی هیواد کی قایم کړی هغوی چی ځانو ته مهذب او پر مختللی هیوادونه وایی هم د مثال له پیش کولو څخه عاجزه دی نجم الدین اربکان د ترکیی د پوخ ، رئیس جمهور ، د حزب اختلاف د مخالفتونو او د ختیځ او لویدیځ د تاوتریخ والی با وجود څنگه (۸) میاشتی کامیاب حکومت وکړ، د سودان د اسلامی حکومت په نړی کی هیڅ دوست نشته لیکن بیا هم دغه حکومتونه نسبت له نورو حکومتونو څخه باالکل مثالی حکومتونه دی.

نهضة العلما (اندونیزیا) د الجزایر د نجات اسلامی جبهه، ،حرکة المقاومة الاسلامیة حماس، د کشمیر اسلامی تنظیمونه د فلسطین فضیلت گوند د ترکیی حرکة الجهاد او نور بین المللی اسلامی گوندونه د دغو چلنجونو او د اسلامی نړی د ماتحتی او په شانگ د علاج لپاره ډیر ښه جواب ثابتیدلای شی خو چی یو ځل د اسلامی هیوادونو خپل منځی قیادت صالحو او اهلکارو خلکو ته حواله شی او د نړی په کچه یو قوی اسلامی حکومت یا بین المللی اسلامی خلافت رامنځته شی بیا به هله په نړی کی مستضعفینو ته د بین المللی انصاف او عدل زمینه مساعده شی او که نه نو د دغو اتومی کفری طاقتونو په لوبه کی د کمزورو او مستضعفو قومونو لپاره د انصاف تمه حتی بلع الجمل فی سم الخیاط دی او بس.

روغتیا او ټولنه

د جاپان د خلکو روغتیایی حالت په زړه پوری دی

په یوې نړیواله سروې کې تایید شوی دی چې د جاپان خلک د اوږده عمر لرونکی او روغتیایی حالت یې په زړه پوری دی. دغې څېړنې چې د نړۍ د عامې روغتیا د موسسې له خوا تر سره شوې موندلې چې په منځنۍ ډول د یو جاپانی عمر څلور اویا نیمو کلونو ته رسیږي ، علت یې دا دی چې دا ډول خلک په خوړو کې زیات غور نه خوري.

دغه راز په سروې کې دا هم موندل شوي چې په تېره لسیزه کې د افریقا د وچې په لسو هیوادونو کې د عمر د اوږدوالی اندازه ټیټه شویده او علت یې د ایډز و با یا اپیدمي ښودل شوی ددې تر څنګ د امریکې متحده ایالتونه د عمر د اوږدوالی په پرتله څلیرویشتم لمبر ښودل شوی خو د نړۍ د عامې روغتیا موسسه وایي چې ددې علت ښایي په ټولنه کې د امریکې د نه مساویتوب خبره وي .

د HIV په ویروس د څلور سوو ماشومانو اخته کوونکو محاکمه تر سپتمبره وځنډېده

د هغو شپږو تنو بلغاریایانو محاکمه تر سپتمبره پورې ځنډول شوې چې په لیبیا کې په قصدي توګه د تقریباً څلور سوه لیبیایي ماشومانو د HIV د ویروس په اخته کولو تورن شویدي ټاکل شوې وه چې ددغو تورنو محاکمه چې یو یې ډاکتر او پنځه تنه نور یې روغتیا پالان دي د فبروري په میاشتې کې پیل شوې وای .

د بلغاریې چارواکو د لګول شویو تورونو له کبله احتجاج کړیدی او شک یې څرګند کړی چې تورن به په عادلانه توګه محاکمه کړای شي. روغتیا پالو ادعا کړیده چې د تحقیقاتو په وخت کې پولیسو دوی شکنجه کړي او ځورولی دي او دوی یې مجبوره کړي وچې د تحقیقاتو هغه پاڼې لاسلیک کړي چې د دوی په ژبه نه وې لیکل شوې.

په نړۍ کې له ٤٧ ملیونو تنو څخه زیات کسان د ایډز د ناروغۍ په میکروب اخته دي

څه موده مخکې د امریکې د متحدو ایالتونو او د اروپا د اتحادیې غړو هیوادونو هغه ابتکار منظور کړ چې د ایډز، نري رنځ او ملاریا د ناروغیو پر ضد به مجادله ګړندۍ کړای شي.

ولسمشر کلنټن په لزبن کې د اروپا د اتحادیې د رئیس ،د اروپا د شورا د رئیس او پرتګال د لومړي وزیر سره په دې اړه خبرې اترې تر سره کړې .

کله چې پنځلس کاله پخوا د ایډز ناروغۍ خوره شوه تر نن پورې په نړۍ کې له ٤٧ ملیونو تنو نه ډیر ددغې ناروغۍ په میکروب اخته دي. په لسو کې نهه کسان په مخ په ودې هیوادونو کې له دې ناروغۍ مري او اوس په نړیواله کچه ددې ګامونه پورته کیږي چې له یوزلو سره هم د داروګانو په رانیولو کې مرسته وشي چې اوس دغه د اروګان یوازې د بډایانو په واک کې دي .

د امریکې اولس مشر ښاغلي کلنټن د امریکې له کانګرس نه د نورو دری سوو ملیونو ډالرو غوښتنه وکړه ده له اروپایي ټولنې او همدا راز له درمل جوړوونکو نه د پرمختلونکو درملو او واکسینو د ودې غوښتنه کړې. په لوېدیځ کې هر کال د سړي په سر لس زره امریکایي ډالر د ایډز ضد په هغو درملو لګیږي چې ژوند یې اوږدوي خو له دې سره سره د ایډز د ناروغۍ له امله مرګ مخ په زیاتیدو دی که څه هم په اوس مهال کې توبرکلوز ډیر مرګوني دي او هر کال دوه ملیونه کسان وژني . د هغو کسانو شمیر په چټکې سره زیاتیږي چې د دوديزه درملو په نتیجه کې یې درملنه نه کیږي ځکه چې د ناروغۍ میکروبونه یې د انتي بیوتیکو په وړاندې مقاومت کوي.

د ملاریا ځینې توکې هم په خوارو ملکونو کې مخ په زیاتیدو دي چې په افریقا کې په سلو کې نوي ته رسیږي ددغو ناروغیو مخنیوی او درملنه ډیره پیچلې ده او د ښوونې نه نیولې بیا تر روغ چاپیریال او تر نویو د اروګانو پورې ټول شیان چاپیر وي .

که څه هم هر ډول ابتکار په دې برخه کې مرسته کولی شي خو وړاندوینه کیږي چې د لنډ وخت له پاره د ایډز، ملاریا او توبرکلوز یا نري رنځ د ناروغیو پېښې مخ په زیاتیدو دي.

د کوپړۍ ټپ په آسانۍ سره نه موندل کیږي

هغه ناروغان چې د ککرۍ یا کوپړۍ د ټپي کیدو له امله په روغتون کې بستر شویدي دا خطر پکې موجود دی چې د دوی د ککرۍ یا کوپړۍ ټپ په اسانۍ سره ونه موندلی شي. د امریکې په متحدو ایالتونو کې په هغو پلټنو کې چې په دې اړه تر سره شوې دي موندل شوي سره له دې چې د دماغ لابراتواري معاینه کیدې شي چې ټپ هم وي لاکن ډاکتران په دې نه شي بریالی کیدای چې هغه ووینې علمي څېړنو ثابته کړیده څه وخت چې څوک په سر ولګیږي اکثراً دا ډول خلک بې سده شي دوی ښایې سر بداله وي او سر یې وګرځي چې په دې حالت کې بې ستړګی څه نه ویني ډاکتران تل د ناروغ دماغ په لابراتوار کې د خاصو ماشینونو په وسیله په ځیر سره معاینه کوي او هڅه کوي چې و مومي د ککرۍ ټولي برخې ته تاوان رسیدلی دی . دغه راز په دې حالت کې له ناروغ نه ساده پوښتنې کیږي که دماغ ته څه تاوان نه وي رسیدلی ناروغ په روانه ژبه ځواب ورکوي او ډاکتر پوهیږي چې دماغ ته څه تاوان نه دی رسیدلی خو د کلیفورنیا په پوهنتون کې ساینس پوهان په دې باور دي چې یوازې دا ډول ازموینې کافي نه دي چې وموندلی شي د چا دماغ تاواني شویدی په دې حالت کې شک پیدا کیږي او فیصله کیږي چې ځیر سره د ماغ بیا معاینه او وکتلی شي. ساینس پوهانو په دې اړه په نیو روترامه نومي ژورنال کې خپلې موندنې خپرې کړیدي دوی ویلي دي په څلوېښتو په کوپړۍ لګیدلو ناروغانو ازموینې او معاینې تر سره شویدي او په سر یا کوپړۍ تر لګیدو وروسته سړي سربداله وي چې هر یو یې په ځیر او دقت سره معاینه شوي د ګلوکوز اندازه په دې ډول ناروغانو کې معلومیږي هغه چې د ماغ ته انرژي ورکوي د څو میاشتو په موده کې کله چې دغه انرژي د ماغ ته ونه رسیږي نو د دماغ فعالیت هم کمیږي . چې په دې حالت کې شاید د ناروغ حالت عادي وبریښي خو د ماغ د هغه ناروغ د دماغ په شان فعالیت کوي چې د کوما په حال کې وي .

دغه ډول پېښې زیاتره په ورزشي لوبو کې سپورتمیناتو ته پیښیږي نو ډاکتران وایي دا ډول خلک دې د احتیاط نه کار واخلي ځکه چې که ورزشي لوبغاړي د احتیاط نه کار وانخلي نو کیدای چې د عمر تر پایه پورې معیوب پاتې شي او بیا به پښیماني څه ګټه ونه رسوي.

د انسان په وجود د مرچکو خوند لرونکي کیمیاوي مرکبات

زموږ په وجود کې داسې کیمیاوي مرکبات موجود دي او جوړیږي چې خوند یې مرچکو ته ورته وي. او دا کار به د ساینسي پلټونکو سره مرسته وکړي چې نوی مسکن درمل جوړ کړي .

د سهیلي کوریا د سیول په ملي پوهنتون کې پلټونکو وموندل چې د مرچکو نه کپسي سین ماده د درد د پیدا کیدو سبب کیږي چې په عصب پورې نښلي، دغه راز پلټونکو وموندل چې په وجود کې انزایمونه ورته کیمیاوي مواد تولید ولې شي چې د درد په مستولو کې رول لوبوي.

په لومړي سر کې کپسي سین کولی شي د دردکمیدو سبب شي چې دا به له پلټونکو سره د نوي درمل په جوړولو او موندلو کې مرسته وکړي.

د ماشومانو د مړینې دوه مهم علتونه

د برتانیې په لا نست نومې ژورنال کې ډاکتر محمد علي د خپلو پلټنو یو رپوټ خپور کړیدی په دې رپوټ کې وړاندیز شوی چې دوه عامله د ماشومانو د مړینې سبب کیږي یو دا چې د څښلو پاکې او به نه پیدا کیږي بل دا چې روغتیایي چارو ته کافي پاملرنه نه شي کیدای .

تقریباً لس کاله پخوا په کال ۱۹۹۰ د عراق په ضد نړیوال اقتصادي بندیز لګول شوی و .

عراق پخوا په ټولنیزو او اقتصادي ډګرونو کې پر مختګ کړی و یاخود اقتصادي بندیزونو له لګولو او د خلیج له جګړې نه وروسته د عراق اقتصادي وضع په ډراماتیکه ټوګه بدله شوه د هیواد په خلکو په خاصه توګه ماشومانو باندې ناوړه اغیزه پریوته .

دغې وروستی پلټنې د بریتانیې او سویزرلند د ساینس پوهانو له خوا په مخ بیول شویدی. په دغو پلټنو کې له دیرش زرو نه زیاتو میرمنو نه په دوو مختلفو ساحو کې پوښتنې شویدي.

دغو ساینس پوهانو د خپلو پلټنو په ترڅ کې وموندل چې په څرګنده توګه د خلیج د جګړې نه وروسته د ماشومانو مړینه دوه چنده شویده په اوله کې د پاکو اوبو نشتوالی، دروغتونونو د وضعې ویجاړیدل او هم د بریښنا کموالی ښودل شوی دغه راز د ناپاکو اوبو نه د ملاریا او اسهال او خوار ځواکی په شان میکروبونو د ماشو مانو د اخته کیدو چانس زیات کړیدی خو هغو سیمو ته چې د ملګرو ملتونو مرستی ور رسیږي د ناروغیو دغه شدت په ماشومانو کې زیات نه بریښي ددې پلټنو په نتیجه کې دا خبره په ډاګه شوه چې په دې برخه کې مسؤلیت د ملګرو ملتونو د اقتصادي بندیز دی .

هر کال یو ملیون خلك د ملاریا د ناروغۍ له لاسه مري

په اذربایجان کې په ملاریا اخته ناروغانو شمیر په بې ساری ډول راکښته شویدی

نړیوالې هڅې چې په دغه هیواد کې د ملاریا ناروغۍ محوه کړای شي په سلو کې اته اغیز ناکې ثابتې شویدي. چې دغه فیصدي د نورو ټولو ځایونو په پرتله خورا ټیټه اندازه ګڼله شویده .

په غیر مترقبه ډول د څوارلسو ګاونډیو هیوادونو استازو تیره اونۍ په باکو کې غونډه کړې وه چې دوی به څنګه د اذربایجان له ګټې نه څه تر لاسه کړي .

په ټولې نړۍ کې د درې سوو ملیونو نه زیات خلک د ملاریا په ناروغۍ اخته دي او هر کال یو ملیون خلک ددې ناروغۍ له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي دغه راز دا ناروغي د ماشو په وسیلې چې د انافیل په نامه یادیږي انسان ته خپریږي ددې ناروغۍ نښې نښانې سره لړي تبه، سرګنګسي او خواګرځول دي.

آیا پرخوری سبب کوتاه شدن عمر میگردد ؟

تبدیل شدن مواد مختلفي که در ترکیب مواد غذایي یکجا به داخل وجود میگردد، به انرژي حرکت و حرارت، و تغییر دادن آنها به شکل حجرات جدید کار سهل و آساني نمیباشد.

حینیکه لقمه، غذا به داخل دهن میگردد غد وات لعابیه، بالایي به تنبیه شروع میکند، عملیه هاي افرازي و عضلي که توسط تمام شبکه هاي مربوط اعصاب موتور و حسي، به شمول سیستم اعصاب مرکزي که به هضم در دهن ارتباط میگیرند به حرکت در آورده میشوند.

بعد از ختم دوره، اول هضم در دهن، لقمه توسط رفلکس هاي معین عصبي از دهن به معده فرستاده میشود و توسط افرازات و حرکات عضلي غیر ارادي (رفلکس) معدوي، دوره، دوم هضم در معده به انجام میرسد. روده هاي باریك دوره، سوم هضم را به انجام رسانیده سپس دوره امتصاص و جذب شروع میشود. بعد از آن کبد که بیشتر از ٤٥٠ وظیفه دارد به فعالیت شروع میکند و قلب چندین برابر بار را ، نظر به حالت نورمال خود انتقال میدهد. تمام اعضاي کوچك و بزرگ بدن حتي تماه حجرات به این وظایف خسته کن و مشکل مشغول میشوند. بنا بر همین مصروفیت سنگین است که کمي بعد از صرف غذا، در رأس قلب تمام اعضاي بدن خسته میشود و مقدار کافي خون به حجرات سیستم عصبي مغز نمیرسد. این حالت بدون شك نشان میدهد که صرف غذاي زیاد تمام اعضاي بدن را خسته ساخته و معني آنرا دارد که بالاي شان باري را که حمل کرده نمیتواند، تحمیل میکنیم. اشخاصیکه غذاي زیاد صرف میکنند و به تنوع غذا بسیار اهمیت میدهند. علت کوتاهي عمر و مرگ قبل از وقت شان همین است. هر عضو بدن براي مدت معین و محدودي قابلیت زیست دارد. اگر زیاد تر از حد معین از آن کار گرفته شود به زودي جواني و فعالیت خود را از دست داده به پیر شدن شروع میکند.

بنا به همین علت است که کسانیکه با صرف غذاي کم امرار معاش مینمایند، مدت درازي زندگي میکنند بدین معني که دوره، جواني و صحت و سلامتي شان در طول تمام عمر شان دوام مینماید.

راغلي ليك

په پاټکو کې څه تيرېږي ؟

د شريعت اوونيزې درنو چلوونکو !

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته

د لوی خدای «ج» نه مو د خپل كړيدلي ملت د ريښتيني خدمت او د هر ډول تولنيزو ناروا او بی قانونيو پر خلاف د اواز اوچتولو په کار کی بريالیتوب غواړو هیله ژما د اځو کړيښی چی د افغان ميړنی ولس په وړاندی د بو کرغيړن عمل يادونه پکی شوی ، تکی په تکی خبره کړی.

په افغانستان کی د اسلامی امارت په قيام سره د هغو بی شميرو پاټکونو تغرور تول شو چی د هيواد د تولو وړو او لويو لارو په اوږدو کی د لارو بو د ځوريدا باعث گرځيدلی و او هغه ملوک الطوايفی له منځه ولاړه چی د د پاټک وال خبره هم قانون وه او هم د محصول ټاکلو معيار . خو اوس هم کله نا کله ځينی کوچنی گيلی او شکايتونه اوريدل کيږی. دلته د کابل ولايت د بينی حصار په سيمه کی هم د ښاروالی او ترانسپورت پاټکونه موجوديت لری او هر کال د قرار داد له مخی په اجاره ورکول کيږی .

ددی پاټک په هکله د سيمی خلک چی د بينی حصار ، چهار آسياب او خير آباد خلک پکی شامل دی وايی چی دغه پاټک بايد اصولاً د هغو موټرو نه محصول واخلی چی د لوگر، پکتيا او خوست ولايتونو ته ځی خو بالعكس د نوموړی پاټک چارواکی په غير قانونی ډول د چهار اسياب او خير اباد له موټرو نه هم محصول اخلی خو د قرارداد له مخی دغه پاټک بايد د سقاوی په دښته کی وی لاکن د پاټک قرار داديانو د ځرگندو وجوهاتو له مخی دغه پاټک په بينی حصار کی جوړ کړی دی تر څو وکړی شی چهار آسياب او خير آباد ته تلونکو موټرو نه محصول واخلی پداسی حال کی چی چهار آسياب او خير آباد د کابل ولايت کی شامل دی .

د ښاروالی محترم مقامات بايد ددغه پاټک د هغه اصلی ځای يعنی د سقاوی دښتی ته چی د کابل او لوگر ولايت پوله ده وليږدوی او ددی غير قانونی عمل مخه ونيسی.

له بلی خوا ځينی پاټک چارواکی د اضافی محصول تر څنگ د کال په پای کی عمداً ځان باقی ښيی او د اسلامی امارت مقاماتو ته عريضه وړاندی کوی چی اجاره ورته معاف کړی او لا داسی ريوتونه هم شته چی د پاټکونو ځينی مسولين د محصول رسيد له ورکولو نه ډډه کوی تر څو د اخيستل شوی محصول اندازه يی معلومه نشی اوس عام خلک له داسی اعمالو نه ډير تنگ راغلی او په دی هکله د مسولينو کلکه پاملرنه غواړی .

والسلام

مير رحمت الله آغا (طالب)

د چهار آسياب د لوی کلی اوسيدونکی

محترم وروړ مير رحمت الله اغا !

زمونږ ښی هيلی او سلامونه هم ومنی

محترمو دا دی ستاسی راليږلی ليک مو کټ مټ درته نشر کړ څښتن دی وکړی چی د اړونده چارواکو د توجه وړ وگرځی او ددی ليک په نشرولو سره هغوی خپل شرعی مسوليت درک او د خلاگانو په ډکولو کی کوښښ وکړی.

اداره

سنگ تهداب ...

در جوامع اسلامي برازنده است از همين مسجد و منبر بود كه مردم افغانستان در جهاد مقدس عليه روسها رهبري گرديد سر انجام روسها در وطن ما شكست خوردند و سر افگنده و شرمسار جهان گرديدند .

در محفل متذكره عده يي از علماي كرام، اهالي منطقه و برخي از مسؤولين ادارات امارتي شركت نموده بودند.

مسجد متذكره در ساحه يك جريب زمين به همكاري مردم طور اساسي و پخته اعمار ميگردد كه گنجايش ۴۵۰ نفر را در يك وقت دارا ميباشد.

كار ترميم سرك ...

توسط انجنيران و منسوبين فني رياست انكشاف دهات آنولايت آغاز گرديده بود اخيراً اكمال و به بهره برداري سپرده شد.

يك منبع مربوط گفت : كار ترميم سرك هاي متذكره از بازار قريه عليشنگ الي منطقه كرنج بطول هشت كيلو متر و از منطقه قلعه بجيل الي ميل دريه ولسوالي عليشنگ بطول ده كيلو متر ترميم گرديده كه با اكمال سركهاي متذكره مشكلات مردم و وسايط ترانسپورتي ازين ناحيه مرفوع گرديده است.

د اطلاعاتو او كلتور وزارت د فرهنگ او هنر د رياست خبرتيا !

د ملی گالری آمريت د انځور گری د هنر د مينه والو د ننداری په خاطر د افغانستان د معاصرو انځور گرو د انځور گری د هنری اثارو نندارتون د ملی گالری په تالار کی پرانستی دی. هيواد وال کولی شی هره ورځ د تعطيل د ورځو په گډون د خپلو معاصرو هنرمندانو د انځور گری اثار د سهار له اوو بجو نه د ماښگر تر څلورو بجو پری ننداره کړی .

از مساعدت مالي ...

ولايت غور را بخاطر نجات از فاجعه بشري كمك نكرده در حاليكه نياز مبرم و شديد بخاطر انجام مساعدت هاي عاجل و فوري وجود دارد. امارت اسلامي افغانستان در سال گذشته از طريق نماينده گي جمعيت عالي افغاني سره مياشت با مردم بي بضاعت ولايت غور هشت هزار لك افغاني مساعدت نموده و امسال در نظر دارد پروسه اين مساعدتها را تا حدود امكان افزايش داده و در اينده نزديك به ارزش ده هزار لك مواد خوراكه را تدارك نموده تا براي آسيب ديده گان توزيع نمايد.

وي پس از تحليل و ارزيابي دقيق اوضاع اقتصادي و زراعتي آنولايت گفت : در سال گذشته نسبت عدم ريزش بارانهاي موسومي سطح حاصلات نسبت به سالهاي قبل هفتاد فيصد كاهش يافت كه در نتيجه در اوايل سالجاري مردم به كمبود مواد غذايي مواجه گرديدند امسال كه دو ماه از كشت بهاري ميگذرد نسبت عدم بارش بارانها و عدم موجوديت آب در كاريز ها چشمه ها و درياچه هاي كوچك زمين هاي زرع شده للمي و آبي خشك و بدون حاصل گرديده اند اين همه مسايل دست بدست هم داده و اسباب صعود قيمت ها در عرضه مواد اوليه را به وجود آورده است .

بناً با در نظر داشت حقايق موجود در ولايت غور سازمانهاي بين المللي جوامع بشري و كشور هاي بشر دوست بايد وظايف انساني شان را در برابر مردم آسيب ديده غور انجام دهند و ما در اين عرصه آماده گي لازم خود را براي ايجاد تسهيلات در عرصه كمك رساني ابراز ميداريم.

تسليح مخالفين ...

موقف فعال و سازنده امارت اسلامي افغانستان را در مورد ختم جنگ و تامين صلح سراسري در كشور بيان داشته مخالفين امارت اسلامي را مجري توطئه ها و دسايس روسها و ساير حلقات مغرض در افغانستان خوانده افزودند تسليح و تجهيز مخالفين از سوي روسها باعث ادامه جنگ و بي ثباتي در منطقه گرديده و ميگردد.

درين اجتماع عده از علما و متنفذين ولسوالي هاي متذكره جنايات مخالفين را كه در دوران تسلط شان بر مردم آنولسوالي ها انجام داده بودند بيان نموده گفتند كه آنان در زمان تسلط شان از انجام هيچگونه جنايت و ظلم بر مردم ما دريغ نكردند ما در كنار امارت اسلامي خود قرار داريم و از منافع كشور ، مردم و جهاد مقدس آنها حمايت مينمايیم.

آنان اعمال مخالفين امارت اسلامي و روسها در افغانستان را تقبيح نموده آماده گي هاي شان را بخاطر دفاع از وطن ، تماميت ارضي و حاكميت اسلامي در كشور ابراز نمودند.

دري تنه بشري ...

چيچن کی د دوی امنيت تامين کړی.

ټاکل شوی وه د اروپا د شورا د بشر د حقوقو د کار پوهانو هيأت پوره شپږ مياشتی په دغه جمهوريت کی د بشر له حقوقو څخه د سرغړونی تورونه وڅيړی .

دا لومړنی نړيوال کتونکی هيأت دی چی د چيچن په جمهوريت کی د جگړی له پيل کيدو وروسته يی اجازه موندلی ده چی دغی سيمی ته سفر وکړی.

د اروپا د شورا رئيس هم د روسيی تر اشغال لاندی چيچن ته له سفر وروسته اعلام کړيدی په دغه جمهوريت کی حالات له هغه څخه ډير خراب دی چی هيله يی کيده .

د بشري مرستو د ...

معين محترم ملا عبدالجليل اخند د ماليی د وزارت معين محترم مولوی عارف الله عارف، کابل والی محترم ملا عبدالمنان نيازی ، کابل ښاروال محترم ملا سعد الدين سعيد ، د احصائيی د مرکزی اداری د رئيس محترم مولوی محمد عمر فاروقی د کار او ټولنيزو چارو د لوی رياست د استازی او د اړوندو امارتی ادارو د يو شمير مسوولينو په گډون جوړه شوه د بشری ټولنو د زياتو اقتصادی مرستو د جلبولو او د هيواد له هغو بزگرانو مالدارانو کروندگرو او خلکو سره د لازمو مرستو د جلبولو په باب چی د هيواد په بيلا بيلو سيمو کی د اوښنی وچکالی له امله سخت زيانمن شويدی او د مرستو د ويش لپاره د معقول سيستم د جوړولو په باب خبری اتری وشوی او په دی برخه کی لازم تصميمونه ونيول شول.

د چين يوه الوتكه په هوا...

داوهان د ښار سيمه ييزو چارواکو ويلی دی دغه الوتکه دری ورځی د مخه په هوا کی له تالندی او بريښنا سره د ټکر له امله چاودیدلی او په دغه ايالت کی د اوهان د سيند تر څنگ لويدلی ده .

په عين حال کی سيمه ييزو پوليسو اعلام وکړ دغه الوتکه له توفان نه د ژغورنی او د راکوزيدلو په هيله ديرش دقيقی د اوهان د هوايی ډگر د پاسه گرځيده .

سوريه له اسرائيلو ...

سازمان له سرمنشی کوفی عنان سره په کتنه کی څرگند کړيدی.

د سوريی او اسرائيلو تر منځ د سولی خبری شپږ مياشتی مخکی له ډپ سره مخامخ شوی.

په دی ترځ کی د سوريی پارلمان تياری نيسی چی د بشار الاسد ټاکنه د سوريی د جمهور رئيس مقام ته د ده د ارواښاد پلار حافظ الاسد په ځای تاييد کړی.

په استراليا كي ...

وژلی دی او په سيمه کی د بريښنا او د زياتو لارو د بنديدو سبب شويدی.

له دغی پيښی نه مخکی زياتره کورونه تش کړای شوی و ددغه توفان گرنديتوب او قدرت څوځله له هغه زيات و چی اټکل يی شوی و .

د مخدراتو د نړيوالي ...

مخدره موادو پر ضد د مبارزی د امارتی عالی کميسيون د غونډو په تالار کی جوړه شوه .

د غونډی په پای کی برابری شوی جايزی او سوغاتونه د مخدره موادو پر ضد د مبارزی د امارتی عالی کميسيون د عمومی رئيس محترم ملا عبدالحميد اخند زاده لخوا په گډون کوونکو وويشل شول.

د گډون بيه له هيواد نه بهر		
ملك	شپږ مياشتني	كلني
پاكستان	RS200	RS400
دخليج هيوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امريكا	US$75	US$150

د ۲۰ توليدي پروژو جوړول ...

د يو سلو شپږ څلويښتو ملياردو څلور ديرش مليونو افغانيو په لومړنی پانگه او د دوه سوه پنځوسو ملياردو نهه سوه شپږ اتيا مليونو افغانيو په وروستی پانگه د ساختمانی پروژی د غوړيو او صابون د توليد درمل جوړولو د غير الکولی مشروباتو جوس او د مربا جوړولو د مميزو د پاکولو او د کرنی د ماشين الاتو د توليد د فابريکی په گډون د ديرشو توليدی او خدماتی پروژو جوړول تاييد او منظور شول.

ددغو فابريکو په جوړيدو او فعاليت سره دوه زره يو سلو پنځه شپيته تنو هيوادوالو ته د کار او فعاليت زمينه برابريږی.

د خصوصی پانگی اچونی د هڅونی او پراختيا د مرکزی اداری کار پوه محترم انجنير بابه جان ددغو فابريکو د جوړيدو او فعاليتونو د اهميت او ارزښت په باب وويل هغه تولی پلاستيکی کوشی او کلوشی چی د کابل په ښار کی ليدل کيږی داخلی توليدات دی چی ددغه شان داخلی توليداتو په وړاندی کولو سره له بهر څخه د ورته مالونو د واردولو مخه نيول شويده چی دا کار د هيواد د اقتصاد په پياوړتيا او د اسعارو د وتلو د مخنيوی په کار کی ارزښتناک رول لری.

ده زياته کړه د خلکو د اړتياوړ په سلو کی نږدی شل غوری همدغه خصوصی پروژی برابروی. چی ددغه شان توليدی او خدماتی پروژو جوړول په هيواد کی د عامه گټی په خاطر د خصوصی پانگو د په کار اچولو يوازينی لاره ده .

ما به جهانيان راه تفاهم و مذاكره را ...

نشستي در وزارت امور خارجه امارت اسلامي ترتيب يافت.

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر گزارش ميدهد : در آغاز اين نشست محترم فيض احمد فيض نطاق وزارت امور خارجه ، ژورناليستان داخلي و خارجي را در جريان حقايق و رويداد هاي جاري در افغانستان قرار داده گفت : امارت اسلامي از بدو تاسيس تا اكنون امنيت مطمئن راد ر قلمرو خويش تامين نموده كه منافع فردي و اجتماعي در آن تضمين ميباشد اما بدبختانه مخالفين امارت اسلامي تبليغات سوء را عليه امارت اسلامي و مردم براه انداخته كشور هاي مغرض و مداخله گر در صدد تخريبات بيشتر عليه امارت اسلامي ميباشد ما به جهانيان راه تفاهم و مذاكره را پيشنهاد مي نماييم و از آنها نيز انتظار داريم كه در برابر امارت اسلامي افغانستان، واقعات، انكشافات و حوادث كه حقيقت و واقعيت استوار باشد موقف سازنده و مثبت را اتخاذ نمايند.

موصوف يك بار ديگر وضع تعزيرات اقتصادي را غير عادلانه خوانده ضمن محكوم نمودن آن از جهانيان خواست كه جلو همچو اعمال ظالمانه را بگيرند. وي پاليسي صلح آميز امارت اسلامي را در رابطه به تامين صلح سراسري در كشور بيان داشته گفت : امارت اسلامي خواهان جنگ نيست ، شعار ما صلح است اما اين مخالفين امارت اند كه به جنگ آماده گي ميگيرند و درين راه بهانه جويي مينمايند و دفاع حق مسلم ما است .

وي تاكيد داشت كه نقش ژورناليستان در ايجاد زمينه هاي تفاهم و همكاري متقابل انعكاس حقايق و واقعيت هاي موجود افغانستان برجسته است زيرا جهانيان بر بنياد اخبار و گزارشات ژورناليستان است كه از انكشافات سياسي ، اقتصادي ، فرهنگي و غيره ... اطلاع حاصل مي نمايند روي اين دليل اين ژورنالستان هستند كه با درك مسووليت بزرگ وظيفوي كه دارند مردم و جهان را از فاجعه ها حوادث و رويداد هاي تلخ و شيرين زمان آگاه ميسازند .

همچنان موصوف موقف امارت اسلامي افغانستان را در رابطه با تروريزم و مبارزه با مواد مخدر يك بار ديگر بيان داشته افزود : تروريزم با انواع و اشكال آن نزد امارت اسلامي افغانستان مردود است و مبارزه با آن را شرعاً مجاز ميداند روي همين دليل بود كه كميسيوني را ا.ا.ا به اين منظور ايجاد نمود كه آنچه قابل تاكيد است اين است كه تروريزم با جهاد مردم افغانستان كاملاً بيگانه است و مردم افغانستان از آغاز جهاد مقدس عليه روسها تا كنون بار ها قرباني تروريزم بين المللي گرديده است. نطاق وزارت امور خارجه در مورد اقدامات امارت اسلامي افغانستان در مورد ايجاد محدوديت ها در زرع كوكنار جلوگيري از قاچاق استعمال و ترافيك مواد مخدر گفت : امارت اسلامي با توليد، قاچاق و استعمال مواد مخدر شديداً مخالف بوده با آن مبارزه نموده است هزار ها هكتار زمين در نقاط مختلف كشور از وجود بته هاي نزديك به حاصل كوكنار پاك كاري گرديده و صد ها كيلو گرام مواد مخدر در محضر عام در گوشه و كنار كشور حريق گرديده است آنچه ميتواند جلو زرع كوكنار را در افغانستان مانع گردد مساعدتهاي بين المللي است زيرا سيستم هاي آبياري و زراعتي كشور در دوران تجاوز روسها بكلي تخريب و از بين برده شده است احياي مجدد سيستم زراعتي در كشور و جلوگيري از زرع كوكنار مستلزم كمك هاي اقتصادي فراوان جوامع بين المللي ميباشد در اخير نطاق وزات امور خارجه يك بار ديگر توجه جهانيان راد ر رابطه به رفع تاثيرات سوء خشكالي كه مردم افغانستان را در نقاط مختلف شديداً متضرر نموده مبذول داشته افزود: امارت اسلامي افغانستان هر لحظه آماده است با كشور ها و موسسات كه علاقمند به كمك مردم آسيب ديده افغانستان اند بذل مساعي نمايد اكنون بر كشور هاي جهان است كه چگونه به اين مسأله برخورد مي نمايند در اين نشست ژورناليستان داخلي و خارجي اشتراك نموده بودند كه به سوالات شان پاسخ هاي قناعت بخش ارايه گرديد.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirate's Printing Press